د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

وردګ پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

کرنې پوهنځی

# د کرنې پوهنځي کتلاک

کال

۱۴۴۷ه.ق / ۱۴۰۵ ه.ش / ۲۰۲۶ م

بسم الله الرحمن الرحیم

# لړلیک

عنوان پاڼه

سریزه........................................................................................1
د کرنې پوهنځي د رئیس پیغام..........................................................2
د کرنې پوهنځي تاریخچه...................................................................3
د کرنې هنځي تشکیلاتي چارت...........................................................4
د کرنې پوهنځي د کمیټو تشکیلاتي چارت.............................................5
د کرنې پوهنځي لرلید، رسالت............................................................6
لرلید(Vision)..................................................................................6
رسالت(Mission)............................................................................6
د کرنې پوهنځي موخې (Objectives)...................................................6
کرنې پوهنځي ارزښتونه (Values).......................................................7
د کرنې پوهنځي امکانات....................................................................7
د کرنې پوهنځي څېړنیز فارم..............................................................9
د کرنې پوهنځي دیپارتمنتونه.............................................................10

هارتیکلچر
دیپارتمنت ........................................................................ !Error
Bookmark not defined.
د هارتیکلچر دیپارتمنت تاریخچه ........................................................ 10
د هارتیکلچر دیپارتمنت لرلید او رسالت .................................................. 11
لرلید(Vision) ........................................................................ 11
رسالت (Mission) ...................................................................... 11
د هارتیکلچر دیپارتمنت موخې ........................................................... 11
د هارتیکلچر دیپارتمنت ارزښتونه ...................................................... 12
د هارتیکلچر دیپارتمنت تشکیلاتي چارت ................................................. 12
د هارتیکلچر دیپارتمنت د استادانو لنډه پیژندنه ......................................... 13
د اګرانومي دیپارتمنت ................................................................ 17
د اګرانومې دیپارتمنت تاریخچه ......................................................... 17
د اګرانومې دیپارتمنت لرلید او رسالت .................................................. 17
لرلید(Vision) ........................................................................ 17
رسالت (Mission) ...................................................................... 18
د اګرانومې دیپارتمنت موخې (Objectives) .............................................. 18
د اګرانومي دیپارتمنت ارزښتونه ........................................................ 18
د اګرانومې دیپارتمنت تشکیلاتي چارټ .................................................. 19
د اګرانومي دیپارتمنت د استادانو لنډه پیژندنه ........................................... 19
د هارتیکلچر دیپارتمنت کریکولم ........................................................ 23
د اګرانومي دیپارتمنت کریکولم .......................................................... 27

## سریزه

الحمد لله رب العالمين والصلاه والسلام على سيدنا محمد وعلى اله وصحبه اجمعين.

کرنه د بشري تمدن د پيل نه تر اوسه پورې د انسانانو لپاره يوه حياتي او بنسټيزه برخه ده. د دې مهمې او اړينې برخې په پرمختګ کې د کرنې پوهنځی يو مهم رول لري. کرنه نه يوازې د خوراکي توکو د توليد لپاره اړينه ده، بلکې د ټولنيزې پرمختيا، اقتصادي ودې او حتى د اقليمي بدلونونو سره د مبارزې لپاره هم حياتي ارزښت لري. له همدې امله د کرنې پوهنځی د کرنيز علم پراختيا، څېړنې، او د کرنې په برخه کې د نوو حل لارو د وړاندې کولو لپاره يوه مهمهتحصيلي اداره ګڼل کيږي.

د کرنې پوهنځي موخه دا ده چې د کرنې په بېلابېلو برخو کې علمي کادرونه وروزي او د کرنيزو ستونزو لپاره نوي او ابتکاري حل لارې وړاندې کړي. دغه پوهنځی د خپل منظم تدريس او عملي فعاليتونو له لارې د زده کړو کيفيت لوړوي او د محصلينو وړتياوې په عملي توګه د کرنې د بېلابېلو برخو کې تقويه کوي. دغه کار د يو لړ علمي او تحقيقي فعاليتونو له لارې ترسره کېږي چې موخه يې د کرنې په ټولو اړخونو کې پرمختګ او نوښت دی.

په دې کتلاک کې، د کرنې پوهنځي بيلابيلې برخې، د تدريس برنامې، څېړنيز فعاليتونه او د پوهنتون د پرمختيا لپاره د دې پوهنځي ستراتيژۍ په تفصيل سره وړاندې شوې دي. دا کتلاک نه يوازې د محصلينو لپاره بلکې د کرنې په برخه کې د علاقه مندانو لپاره هم يوه غوره سرچينه ګڼل کيږي.

## د کرنې پوهنځي د رئيس پيغام

بسم الله، والحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومَنْ والاه وبعد.

کرنې پوهنځي د افغانستان لوړو زده کړو وزارت د قوانينو په چوکاټ کې خپل علمي او اکاډميک فعاليت کوي، چې تر ټولو مهم او اساسي رسالت يې د اسلامي او عمومي ارزښتونو په رڼا کې په لوړ کيفيت، متوازنه او عادلانه توګه سره په علمي او مسلکي برخو کې د استعدادونو پيژندنه، روزل، ارزول او د هغوی د علمي او مسلکي وړتياوو لوړول بلل کيږي.

د زده کړو حاصلول يوه اسلامي وجيبه، يوه عمومي اړتيا او په سيمه ييزه او نړيواله کچه د سيالۍ يوازينۍ لار ده، نو د لوړو زده کړو په حاصلولو او ترلاسه کولو کې زموږ مسؤليت فردي نه بلکې ټولنيز دی، او د دې مسؤليت د حق اداينې په پار بايد پلرونه، ميندې او د ټولنې هر وګړی خپل مسؤليت په پوره امانت دارۍ سره اداء کړي، ترڅو افغاني ټولنه د يو باثباته او سولييز پرمختګ لور ته سوق او وخوځيږي.

**پوهنمل دوکتور عبدالکريم امين**

**د کرنې پوهنځی رئيس**

## د کرنې پوهنځي تاریخچه

وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې چې د ۲۰۱۴ میلادی کال سره سمون خوري د یاد پوهنتون د تأسیس سره سم د دوو څانګو ( هارتیکلچر او اګرانومي) په چوکاټ کې په لومړي ځل د دریو تنو استادانو په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ.


د کرنې پوهنځی ټول تشکیل (۲۲) کسانو ته رسیږي چې له دې جملې څخه څوارلس (۱۴) تنه کادري غړي لري چې د ماستري او دوکتورا تر کچې یې زده کړې کړي دي، د دې تر څنګ څلور تنه اداري کارمندان، دوه تنه خدماتي کارکوونکي او دوه تنه باغبانان په خپل تشکیل کې لري. اوسمهال د دې پوهنځي په پورته ذکر شوو دوو (۲) څانګو کې ۲۳۵ تنه محصلین په زده کړو بوخت دي. دغه پوهنځي د ۹ کلن بهیر په دوران کې له یادو دوو څانګو څخه ۵۸۸ تنه محصلین د ټولنې د خدمت په موخه فارغ کړي دي.

کرنې پوهنځي د کیفیت لوړاوي په برخه کې هم اړین فعالیتونه ترسره کړي دي. د کیفیت لوړاوي په موخه یې په خپل اداري چوکاټ کې ۱۰ کمېټې جوړې کړي دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي په برخه کې په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له:

1. کیفیت لوړاوي کمېټه
2. ستراتیژیک پلان کمېټه
3. ظرفیت لوړاوي کمېټه
4. نصاب کمېټه
5. څېړنې کمېټه
6. الکترونیکي زده کړو کمېټه
7. آزموینو کمېټه
8. مالي کمېټه
9. د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټه
10. نظم او دیسپلین، دعوت ارشاد کمېټه

دا کمېټې خپل کارونه په خپل وخت او منظم ډول ترسره کوي چې ښه بېلګه یې د ستراتیژیک پلان جوړېدنه ده چې د اړوندې کمېټې له لوري جوړ شوی دی.

## د کرني پوهنځي تشکيلاتي چارت



## د کرنې پوهنځی د کمېټو تشکیلاتی چارت



## د کرنې پوهنځي لرلید، رسالت

### لرلید(Vision)

کرنې پوهنځی په علمي ډګر کې د هېواد په کچه د کرنې د یوې غښتلې او اکادمیکې اداري د رامنځته کولو هڅې کوي، ترڅو د کرنې په برخه کې د هېواد د پرمختګ، هوساینې او ښې راتلونکې لپاره با استعداده، مسلکي او په اسلامي روحیه سمبال کادرونه وروزي.

### رسالت(Mission)

کرنې پوهنځی د مسلکي، اخلاقي او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو، شریکولو او د علمي چارو لپاره زمینه برابروی.

### د کرنې پوهنځي موخې (Objectives)

- د عصري او معیاري میتودونو په وسیله د تدریس چارې پر مخ وړل.
- د عصری کرنې د انکشاف، د نباتاتو د تکثیر او اصلاح، د نباتي ناروغیو او آفاتو په مقابل کې مبارزه.
- د خاورې ساتنه او اصلاح، د اوبو تنظیم او مدیریت.
- د حیواني او نباتي محصولاتو اصلاح او مدیریت په برخو کې د علمي او مسلکي کادرونو روزل.
- د استادانو او محصلینو په واسطه د خانګو اړوند علمي څېړنو سرته رسول.
- د کرنې او مالدارۍ سکتور اړوند علمي تألیفاتو ، ژباړو، سمینارونو، ورکشاپونو او اړوند مسلکي فعالیتونو سرته رسول.

## کرنې پوهنځي ارزښتونه (Values)

- اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمنتیا.
- باکیفیته لوړې زده کړې.
- جواب ګویي، صداقت او متقابل احترام.
- مسلکي کېدنه، سالمه اداره او اغیزمنتوب.
- هڅه، خلاقیت او ابتکار.

## د کرنې پوهنځي امکانات

- کرنې پوهنځی ځانګړی تدریسي او اداري تعمیر شتون.
- د باتجربه او مسلکي استادانو او اداري کارمندانو شتون
- د مجهزو تدریسي ټولګیو شتون (LCD، پراجیکتور، میز، چوکۍ، بادپکې، تخته، مارکر او برق)
- کرنې پوهنځی د څېړنو لپاره پراخه ځمکه او خوړې اوبه په خپل اختیار کې لري.
- د کرنې پوهنځي ټولې اداري خونې په لازمو اداري وسایلو او تجهیزاتو باندي سمبال دي.
- د پوهنتون په کتابخانه کې د کرنې پوهنځي اړوند د مناسبو او کافي اندازه کتابونو شتون
- د کرنې پوهنځي په ټولو اداري خونو او د محصلینو لپاره په کمپیوټر لب کې د انترنت شتون.



مجهز کمپیوټر لب



سولر سیستم



جامع جومات



درسيټولګي



کتابتون

## د کرنې پوهنځي څېړنيز فارم

د وردګ پوهنتون اړوند د کرنې پوهنځي څېړنيز فارم د لوړو زده کړو وزارت له انکشافي بودجې څخه د (۱۹) میلیون افغانیو په ارزښت په (۱۸) جریبه ځمکه کې په پاخه او اساسي توګه جوړ شوی دی. یاد څېړنیز فارم په بېلابېلو برخو کې بشپړ امکانات او سهولتونه لري، چې پوره تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱- **د ځمکې مساحت:** د دغه څېړنیز فارم لپاره ۱۸ جریبه ځمکه د کرنې په موخه هواره شوې او څلورو خواوو ته د جال (پینس) په واسطه په پاخه او اساسي توګه احاطه شوې ده.

۲- **د څېړنیز فارم وداني:** د یاد څېړنیز فارم په داخل کې د فارم د مدیریت او دفترونو لپاره یو ودانۍ له ټولو ملحقاتو سره یو ځای په پاخه او اساسي توګه جوړه شوې ده، چې د فارم د مدیریت دفترونه، د کرنیزو څېړنو د ثبت او تحلیل خونې، د ترسره شویو څېړنو کتابتون او دوه لوی ګدامونه په کې شتون لري.

۳- **شنه خونه:** د څېړنیز فارم په یو برخه کې د ۳۰۰ مترمربع مساحت په لرلو سره په عصري تکنالوژۍ سمبال یوه شنه خونه هم جوړه شوې، چې له ټولو موسمونو سره سم د یخنۍ او تودوخې پر سیستمونو سمبال ده.

۴- **د اوبو لګونې سیستم:** د کرنیز فارم د اوبو لګونې لپاره ځانګړی سیستم په پام کې نیول شوی دی، چې د اوبو ژور کوهی، په ۱۲ متره ارتفاع کې د ۱۰مترمکعب په اندازه د اوبو یوه اوچته ذخیره، ۱۰کیلو واټه سولري بریښنا او د اوبو رسونې سیستم په پام کې نیول شوي دي.

دغه څېړنیز فارم د کرنې پوهنځي تر مدیریت لاندې په څو بېلابېلو برخو وېشل شوي، چې لویې برخې یې د هارټیکلچري څېړنو او اګرانومي څېړنو برخې دي.



## د کرنې پوهنځي دیپارتمنتونه

### د هارتیکلچر دیپارتمنت تاریخچه

وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د انکشافي پلان له مخي د اقتصادي پالیسي په رڼا کې د ځوان نسل د سالمي او مسلکي روزنې په موخه په ۱۳۹۳ هـ ل کې د اګرانومي او هارتېکلچر څانګو په تأسیس سره خپل فعالیت پیل کړ، په ۱۳۹۷ هـ ل کې یې لومړۍ دوره فارغین هېوادوالو ته د خدمت په موخه وړاندې کړل. د هارتېکلچر دیپارتمنت چې د کرنې پوهنځي یو بنسټیز دیپارتمنت ګڼل کیږي تر اوسه یې ۳۳۰ تنه زده کړیالان د لیسانس په کچه روزلي او د ټولنې چوپړ ته وړاندې کړي دي؛ او ۱۱۵ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي چې نظري او عملي زده کړیز بهیر یې د (۶) کسانو رسمي مجربو استادانو له لوري پر مخ وړل کیږي. د کرېډېټ لایحې او نوي کریکولم مطابق له هارتېکلچر دیپارتمنت څخه د لیسانس کچې د فراغت په موخه ۴۶ تخصصي، ۸۳ اساسي، ۴۵پوهنتون شموله، ۳۹ د عملي کار او ۶ اختیاري کریډیټونه چې ټول ۲۱۹ کیږي، شرط ګڼل شوي دي.

## د هارتیکلچر دیپارتمنت لرلید او رسالت

### لرلید(Vision)

د هارتیکلچر دیپارتمنت د یاد سکتور د هر اړخیزه انکشاف لپاره د علمي او مسلکي کادرونو د روزلو او څېړنو ترسره کولو له لارې د هیواد په کچه د کرنې پوهنځي د مخکښ دیپارتمنت په توګه وپېژندل شي.

### رسالت (Mission)

د هارتیکلچر دیپارتمنت هڅه کوي چې د علمي او مسلکي کادرونو د روزنې او څېړنو په ترسره کولو سره د هارتېکلچر د علم او په یاده برخه کې نوې تکنالوژي او میتودونه وپیژني او د تدریسي، څېړنیزو او ترویجي پروسو له لارې د ټولنې اقتصادي او ټولنیزې هوساینې لپاره ښه دنده ترسره کړي.


### د هارتیکلچر دیپارتمنت موخې

- د هارتیکلچر د سکتور په برخه کې د ځوانو کادرونو روزنه.
- د هارتیکلچر په برخه کې د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړول.
- د هارتیکلچر په برخه کې د نوې ټکنالوژۍ او د هغو له استعمال سره د محصلینو آشنا کول.
- د هارتیکلچر په سکتور کې د مختلفو پروژو د تطبیق سره د محصلینو اشنا کول.
- د هارتیکلچر د سکتور پرمختګ او په یاده برخه کې د شرکاوو د اړتیاوو رفع کول.
- د هارتیکلچر په سکتور کې د علمي او فني څېړنو او مطالعاتو ترسره کول.

## د هارتیکلچر  دیپارتمنت ارزښتونه

- د هارتیکلچر دیپارتمنت ارزښتونه.
- اسلامي او عمومي ارزښتونو ته ژمنتیا.
- نوښت او خیړنېزې هڅې.
- پایدار پرمختګ.
- مسلکي تعلیم، روزنه او مهارتونه.
- تولنیز مسؤلیت ادا کول.
- کیفیت او مسلکي توب.

## د هارتیکلچر دیپارتمنت تشکیلاتي چارت



## پوهنمل ایمل ناصري

ښاغلی پوهنمل ایمل ناصري د محمد عارف زوی په ۱۳۶۸ هجري لمریز کال د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ تنګی درې د ناصرو کلي په یوه دینداره او روشنفکره کورنۍ کې زیږیدلی دی، ښاغلي ناصري خپلې لمړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې د تنګي د امام ابوحنیفه په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي.

ښاغلی ناصري په ۱۳۸۷ کال د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځی په هارتیکلچر دیپارتمنت کې شامل او په ۱۳۹۱ کال د کادري نمرو په ترلاسه کولو سره د لیسانس په کچه له یادې پوهنځي څخه فارغ شو.

ښاغلی ناصري د هغې ځانګړې علاقې له امله چې د استادۍ له عالي مقام سره یې درلوده، علمي کادر ته د شمولیت د ازموینې د ترسره کولو وروسته په ۱۳۹۴ کال د کرنې پوهنځي په هارتیکلچر دیپارتمنت کې د نامزد پوهیالي په توګه د استادۍ په لقب مفتخر او د یاد پوهنځي په علمي کادر کې شامل شو.

ښاغلی ناصري د لوړو زده کړو وزارت د وړاندیز او د عالي مقام د منظورۍ څخه وروسته په ۱۳۹۵ کال کې د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د ریاست مسئولیت ته اوږه ورکړه.

ښاغلی ناصري د ماسترۍ په کچه د لوړو زده کړو په موخه په ۱۳۹۶ کال کې د چین هیواد بورس ته معرفي او په ۱۳۹۹ کال کی د ننجینګ زراعتي پوهنتون څخه د ماسترۍ په کچه تحصیلي سند تر لاسه کړ.

همدا رنګه ښاغلی ناصري د لوړو زده کړو وزارت د وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د منظورۍ څخه وروسته په ۱۴۰۰ کال کې د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي ریاست ته د دوهم ځل لپاره د رئیس په توګه مقرر شو.

ښاغلی ناصري تر دې دمه تر لسو پورې علمي مقالې لري چې په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې په چاپ رسیدلې دي ددې تر څنګ یو بل علمي کتاب له انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړلی چې په نږدې وختونو کې به چاپ ته وړاندې شي.

## پوهنمل حکمت الله حکمت

پوهنمل حکمت الله حکمت د ثمرګل زوی، په ۱۳۶۸ل.ل کال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شیخ آباد د مستي خیلو په کلې کې زیږیدلی دی. لومړنۍ، منځنۍ او ثانویه زده کړې یې په ۱۳۸۶ل. کال کې د شیخ آباد په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي. په ۱۳۸۷ل.ل کال کې د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د کرنې پوهنځي د هارتیکلچر دیپارټمنت ته شامل او ۱۳۹۲ ل. ل کال کې د یاد پوهنځي څخه په اعلی درجه فارغ شوی. د ۱۳۹۳ څخه تر ۱۳۹۶ ل.ل کال پورې یې د سیدآباد ولسوالۍ د کرنې په مسلکي لیسه کې د استاد په حیث دنده تر سره کړې ده. په ۱۳۹۶ ل.ل کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردګ د لوړو زده کړو موسسې د کرنې پوهنځي د هارتیکلچر دیپارټمنت په علمې کادر کې د شمولیت ویاړ ترلاسه کړ او د پوهنتون له لارې د لوړو زده کړو له پاره د ایران هیواد د اصفهان صنعتي پوهنتون ته معرفې او په ۱۳۹۹ ل.ل کال کې د هارتیکلچر په برخه کې یې ماسټري ترلاسه کړه.

اوس مهال د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د هارټیکلچر دیپارتمنت د استاد او آمر په توګه دنده ترسره کوي.

## پوهنیار فریدالله اریک

فریدالله اریک د سپین جان زوی او د علي اصغر لمسی دی، چې په ۱۳۶۵ هـ ل کال کې د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ د اکاکهول په کلي کې زیږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د کابل ښار د لامعه شهید په ښوونځي کې تر پنځم ټولګي پورې ترسره کړې، وروسته یې تر نهم ټولګي زده کړې د عبدالرحمن شهید په ښوونځي او د دولسم ټولګي زده کړې یې د استاد عبدالحق بیتاب په لیسه کې بشپړې کړې دي. ښاغلي اریک په ۱۳۸۵ هـ ل کال کې د کانکور ازموینې له لارې د پکتیا پوهنتون د کرنې پوهنځي ته لار موندله او په ۱۳۸۹ هـ ل کال کې یې له یادې پوهنځي څخه د لسانس سند په ښه درجه ترلاسه کړ. نوموړی په ۱۳۹۲ هـ ل کال کې د آزاد رقابت له لارې د فاریاب پوهنتون د علمي کادر د غړي په توګه وټاکل شو. وروسته په ۱۳۹۶ هـ ل کال کې د ایران هیواد د علوم کشاورزی و منابع طبیعی پوهنتون ته د ماسټرۍ زده کړو لپاره ولاړ او په ۱۳۹۸ هـ ل کال کې یې دغه دوره په شنو خونو کې د کرنیزو محصولاتو د تولید په برخه کې په بریالیتوب سره بشپړه کړې.

له فراغت وروسته يې بېرته په فارياب پوهنتون کې خپلې علمي دندې ته ادامه ورکړې. همدارنګه د ۱۴۰۴ هـ ل کال په پای کې له فارياب پوهنتون څخه وردګ پوهنتون ته تبديل شو.

## پوهنمل دوکتور عبدالکريم امين

پوهنمل دکتور عبدالکريم امين د محمد امين زوی په ۱۹۹۰م کال د غزني ولايت د خواجه عمريو ولسوالۍ په طاقدوز کلي کې زيږېدلي دی. ښاغلی امين په ۲۰۰۸ م کال کې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې د سلطان مسعود په عالي ليسه کې په عالي درجه بشپړې کړې. ورپسې د کانکور آزموينې له لارې د کابل پوهنتون کرنې پوهنځي د هارټيکلچر څانګې ته بريالی شو او له ياد پوهنځي څخه په ۲۰۱۳ م کال کې په اعلی درجه فارغ شو. نوموړی د لسانس دورې تر بشپړولو وروسته په وردک پوهنتون کې د استاد په حيث وګمارل شو، نوموړي په ۲۰۱۸ م کال کې خپله ماستري د هارتيکلچر په برخه کې د هند په ( University of Horticultural sciences, Bagalkot) پوهنتون کې بشپړه کړه او وروسته بيا د ۲۰۱۹ م په ورستيو کې د چين هيواد يوه بورس ته د دوکتورا په کچه لوړو زده کړو ته معرفي شو، دکتور امين خپلې زده کړې په ۲۰۲۴ کال کې بشپړې کړې او اوسمهال په ياد پوهنتون کې د استاد په توګه خپله دنده پر مخ وړي.

## پوهنمل اجمل حبيبي

پوهنمل اجمل حبيبي د غلام حبيب زوی د شاه سعيد لمسی د کابل ولايت د پغمان ولسوالۍ د خالداري کلي اوسيدونکی په کال ۱۳۶۹هـ.ش کال کې په يوه ديندراه او متدينه کورنۍ کې زيږدلی دی. ابتدائي زده کړې يې د کابل ولايت د درخانۍ په عالی ليسه، متوسطې زده کړې يې د کابل ولايت په نادريه عالي ليسه کې بشپړې کړې. په ۱۳۸۵ کال کې د کابل ولايت د محمود هوتکي له عالي ليسې څخه د بکلوريا په سويه فارغ او په کال ۱۳۸۷ د ننګرهار پوهنتون په کرنې پوهنځي کې شامل او په کال ۱۳۹۱ کې د ننګرهار پوهنتون د هارټيکلچر له ديپارټمنت څخه د لسانس په سويه د کادري نمرو په ترلاسه کولوسره فارغ او په ۱۳۹۱ کال کې د کابل ولايت د ښاروالۍ په سرسبزي رياست کې د مامور په حيث دنده ترلاسه کړه. له يوڅه مودې خدمت وروسته په په ۱۳۹۲ کال کې د معارف وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو په معينيت پورې اړوند د کابل د کرنې او وترنرۍ په انستيتوت کې د

استاد په حیث تقرر حاصل کړ، چې په همدې موده کې یې په نومړي انستیتوت کی دوه کاله د هارټیکلچر د دیپارتمنت د آمر او دوه کاله یې د نوموړي انستیتوت د تجربوي فارم د آمر په حیث دنده ترسره کړې ده. وروسته په ۱۳۹۷ کال کې د آزاد رقابت له لارې د هندوستان هیواد د ماسټرۍ بورس ته بریالی شو، د ماسټرۍ برنامې له بشپړېدو وروسته په کال ۱۳۹۹ کې هیواد او دندی ته راستون او په۱۴۰۲ کال کې د آزاد رقابت له لارې وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي په هارټیکلچر دیپارتمنت کې د استاد په حیث وګمارل شو. برسیره پردې یې په ملي او بین المللي ژورنالو کې علمي مقالې هم نشر شوې دي. مورنۍ ژبه یې پښتو ده او د دې ترڅنګ په دري، اردو او انګلیسی ژبو هم خبرې کولی شي.

## پوهنیاراحمد شاه احمدزی

احمدشاه احمدزی په ۱۹۹۵م کال کې د لوګر ولایت په محمدآغې ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. ښاغلی احمدزی په ۲۰۱۲م کال کې د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ له عالي لیسې څخه په آعلی درجه فارغ شوی او په همدې کال د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د کرنې پوهنځي هارتېکلچر څانګې ته بریالی شو او له یاد پوهنځي څخه په ۲۰۱۷م کال کې په اعلی درجه فارغ شو. ښاغلی احمدشاه احمدزی د لسانس دورې د بشپړولو څخه وروسته یو څه وخت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارې وزارت اړوند د SNaPP2 پروژه کې د ځوان مسلکي مشاور په حیث او له هغو وروسته په وردګ پوهنتون کې د ازاد رقابت له لارې د کرنې پوهنځی د هارتېکلچر څانګې د علمي کادر په حیث مقرر او تر اوسه یاده مقدسه دنده پر مخ وړي.

## د اګرانومي دیپارتمنت

### د اګرانومۍ دیپارتمنت تاریخچه

وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د انکشافي پلان له مخې د اقتصادي پالیسۍ په رڼا کې د ځوان نسل د سالمې او مسلکي روزنې په موخه په ۱۳۹۳هـ ل کې د اګرانومي او بڼوالۍ څانګو په تأسیس سره خپل فعالیت پیل کړ، په ۱۳۹۷ هـ ل کې یې لومړۍ دوره فارغین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل. اګرانومي دیپارتمنت چې د کرنې پوهنځي یو بنسټیز دیپارتمنت ګڼل کیږي تر اوسه ۲۵۸ تنه زده کړیالان د لیسانس په کچه روزلي او د ټولنې چوپړ ته یې وړاندې کړي دي؛ او ۱۲۰ تنه محصلین په کې په زده کړو بوخت دي چې د نظري او عملي زده کړو بهیر یې د شپږو (۶) تنو رسمي استادانو له لوري پرمخ وړل کیږي. د کریډیټ د لایحې او نوي کریکولم مطابق د اګرانومي دیپارتمنت څخه د لیسانس کچې د فراغت په موخه ۷۲ تخصصي، ۶۰ اساسي، ۴۵ پوهنتون شموله او ۶ اختیاري کرېډیټونه چې ټول ۱۳۸ کیږي، شرط ګڼل شوي دي.

### د اګرانومي دیپارتمنت لرلید او رسالت

#### لرلید(Vision)

اګرانومي دیپارتمنت به د هر اړخیزې پراختیا لپاره د علمي او مسلکي کادرونو په روزولو او د علمي څیړنو په ترسره کولو سره د سیمې په کچه د کرنې پوهنځي د مخکښ دیپارتمنت په توګه وپیژندل شي.

## رسالت (Mission)

د اګرانومي دیپارتمنت هڅه کوي چې د علمي او مسلکي کادرونو په روزلو او د علمي څیړنو په ترسره کولو سره د اګرانومي علم او په ذکرشوې برخه کې د نویې تکنالوژۍ معرفي او په یاده برخه کې پراختیا ورکړي، ترڅو د ټولنې وګړو ته د صحي او کافي خوړو تیارولو، پر مختګ او هوساینې زمینه مساعده شي.

## د اګرانومۍ دیپارتمنت موخې (Objectives)


- د اګرانومي اړوند برخو کې د څېړنو ډیزاین او عملي کول.
- د نباتاتو کرنیزو عملیو په سالم ډول تنظیم، اداره او ورته مناسب محیط برابرول.
- د فی واحد ځمکې څخه لوړ او دوامداره تولید ترلاسه کول.
- د اوبو او چاپیریال له ککړتیا څخه مخنیوی کول.
- د خاورې د حاصلخیزۍ ساتل او د تل پاتې کرنې اساسات عملي کول.
- د مصارفو کموالی او د میکانیزه کرنې میتودولوژي ترویجول.
- د طبیعي آفاتو او ژوندیو تخریبي موجوداتو په سبب د ضایعاتو مخنیوی او سالم مدیریت.
- دبیړني حالت د کابو کولو، د عرضې او تقاضا توازن ساتلو لپاره د غذايي موادو د ذخیرې او پروسس اداره کول.
- د فابریکو دوامدار تولید ته دخامو موادو تهیه او د بهرنیو اسعارو ترلاسه کول.

## د اګرانومي دیپارتمنت ارزښتونه

- د اګرانومي فعالیتونو د تطبیق پر مهال اسلامي فرهنګ او کلتور ته درناوي په موخه محلي او نړیوالو اړیکو ته پاملرنه کول.
- د نویو او پرمختللو اګرانومیکي غوره طریقو د اختیارولو په پار د څیړنو پلي کول.
- د خلکو د اقتصادی ستونزو د حلولو لپاره د علمي او تحلیلي مهارتونو اړوند د اګرانومي زده کړو او پوهې ته پراختیا ورکول.

- چاپیریال او طبیعي منابعو ته په پام سره پایښت لرونکي تولید په موخه خیړنې تر سره کول.
- د عرضه او غوښتنې د قوانینو پر بنسټ د تولیداتو سیستم عیارول.
- د اګرانومي علم عامول او د منابعو سالم مدیریت ته پاملرنه کول.
- په لوړ با کیفیته تولیدات سره غذایي مصئونیت رامنځ ته کول او د لوږې او فقر له منځ وړل.
- د خلاقیت او نوښت رامنځ ته کول

## د اګرانومي دیپارتمنت تشکیلاتي چارټ




## د اګرانومي دیپارتمنت د استادانو لنډه پیژندنه

### پوهنمل نور محمد احمدي:

پوهنمل نورمحمد احمدي د ګل میر زوی په ۱۳۶۵ کال کې د وردګ ولایت په جغتو ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د شهیداحمدشاه په منځنۍ ښوونځي او ثانویه زده کړې یې په ۱۳۸۴ هـ ل د کربت امام ابوحنیفه په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي، په ۱۳۸۸ هـ ش کې د خوست شیخ زاید پوهنتون د کرنې پوهنځي له

اګرانومي دیپارتمنت څخه د لیسانس په کچه فارغ شو. او په ۱۳۹۵ هـ ل کال کې یې د I A R I او A N A S T U پو هنتونونو څخه د ماسترۍ سند ترلاسه کړ.
د ۱۳۸۹ - ۱۳۹۲ هـ ل پورې د کند هار ولایت د کرنې ریاست د کوکران په څېړنیز فارم کې د تحقیق او ترویج د متخصص په بست کې دنده ترسره کوله، له ۱۳۹۲ - ۱۳۹۷ هـ ل پورې په ذکر شوي فارم کې د صنعتي او پیداوار نباتاتو د متخصص په بست دنده ترسره کړې او به ۱۳۹۷ هـ ل کال کې د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځی د اګرانومي دیپارتمنت د کادري غړی په توګه او همدارنګه د ۱۳۹۸ هـ ش د ذکرشوې دیپارتمنت د آمریت مسئولیت هم پرغاړه لري.

## پوهنمل عبدالله آرام:

پوهنمل عبدالله آرم د حبیب الله زوی په ۱۳۶۵ هـ ل کال کې د میدان وردګ ولایت، نرخ ولسوالۍ، شهاب الدین قریې د کوډګي په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانستې. لومړنۍ زده کړې یې دشهاب الدین په ابتدایه ښوونځي، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې په ۱۳۸۳هـ ل کال کې د خالد بن ولید په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي، په ۱۳۸۳هـ ش کال د کانکور په ازموینه کې د کابل پوهنتون، کرنې پوهنځي، اګرانومي دیپارتمنت ته بریالی شو. په ۱۳۸۷هـ ش کې یې د یادې دیپارتمنت څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ او د میدان وردګ ولایت د کرنې په لیسه کې چې وروسته یې د ډاکتر عبدالوکیل د کرنې او وترنرۍ په نوم انستیتیوت ته ارتقاع وکړه، د استادۍ سپیڅلې دنده تر لاسه کړه او تر ۱۳۹۶ هـ ل کال پورې یې په یاد انستیتیوت کې خپله دنده په پوره اخلاص سره ترسره کړه . په ۱۳۹۶ هـ ل کې د ازادې سیالۍ له لارې وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د اګرانومي دیپارتمنت د کادر غړیتوب ترلاسه کړ. په ۱۳۹۸ هـ ل کال کې د آزاد رقابت له لارې د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي د اګرانومي دیپارتمنت ماسترۍ برنامې ته بریالی او په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې یې خپله ماستري په بریالیتوب سره پای ته ورسوله . نوموړی استاد د دندې د پیل څخه تر اوسه پورې په پوره اخلاص او ریښتینولۍ سره د هېواد بچیان روزلي او په دې برخه کې خپلې مقدسې دندې ته دوام ورکوي.

## پوهنیار حنیف الله عابد:

حنیف الله عابد د میرآقا زوی، په ۱۳۷۵هـ ق کال کې د وردګ ولایت جغتو ولسوالۍ کنج جغتو په کلي کې زیږېدلی دی. ابتدایي زده کړې یې د خپل کلي شهید احمد شاه

په ابتدایه ښوونځي کې، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې په ۱۳۹۳هـ ق کال کې د امام ابوحنیفه (ګربت) په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي. په ۱۳۹۴هـ ش کال کې د کانکور د آزمویني له لارې د هلمند پوهنتون کرنې پوهنځي ته بریالی شو. په ۱۳۹۹هـ ش کال کې د کرنې پوهنځي اګرانومي دیپارتمنت څخه په اعلی درجه فارغ شو. د تحصیلي دورې د پای ته رسولو څخه وروسته په ۱۴۰۱هـ ش د ثور د میاشتې په ۱۹ نېټه د احصایې او معلوماتو ملي اداري د الکترونیکي تذکرو د مرکزو د تنظیم په برخه کې دنده ترلاسه کړه، د همدې ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کې د احصایې او معلوماتو ملې ادارې د اداري او خدماتو ریاست د ډیټابیس عمومي مدیریت کې د ډیټابیس د انکشاف په برخه کې خدمتی دنده ترسره کړه. نوموړی د ۱۴۰۱هـ ش کال د دلوې په ۱۲نېټه د آزاد رقابت له لارې د وردګ پوهنتون، کرنې پوهنځي په اګرانومي دیپارتمنت کې کادري بست ته بریالی شو چې اوس هم په دې سپیڅلې برخه کې خپله دنده ترسره کوي.

### پوهنمل عبدالبصیر ترابي

پوهنمل عبدالبصیر ترابي د نورآغا زوی په ۱۹۹۵م کال د کاپیسا ولایت، کوه بند ولسوالۍ په سرخ کلي کې زیږېدلي دی. ښاغلي ترابي په ۲۰۱۳م کال کې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې د بولغین په عالي لیسه کې ترسره کړې. چې بیا وروسته په همدې کال د کانکور آزمویني له لارې د پروان پوهنتون کرنې پوهنځي اګرانومي څانګې ته بریالی شو او له یاد پوهنځي څخه په ۲۰۱۷م کال کې په اعلی درجه فارغ شو. نوموړي د لسانس دورې تر بشپړولو وروسته د کابل پوهنتون، کرنې پوهنځي، اګرانومي دیپارتمنت ماسترۍ برنامه پیل کړه او په ۲۰۱۹ م کال کې ترې فارغ شو. ترابی د ماسترۍ تر څنګ په یوه داخلي غیر دولتي مؤسسه کې د کرنې د متخصص په توګه یو کال کار کړی او ورسره په څنګ کې د پروان پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې د یو کال تدریس ویاړ لري. وروسته یې د لنډ وخت لپاره د DAI په RADP-E پروژې کې په کار پیل وکړ او وروسته یې په ۲۰۱۹ م کې د کابل ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبو لګولو له ریاست سره دنده پیل کړه او د ۲۰۲۰ الی ۲۰۲۲ پورې د اوبو ریاست د اوبو د تنظیم له ملي اداري سره کار ته دوام ورکړ. له هغې وروسته په ۲۰۲۲ کې د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي، اګرانوامی دیپارتمنت کې د علمي کادر دغړي په حیث په دنده وګمارل شو.

**پوهنمل محمد جان آرین:**

پوهنمل محمد جان آرین د منظر خان زوی په ۱۳۶۷ کال کې په وردګ ولایت کې نړۍ ته سترګې پرانستې. لومړنی زده کړې یې د غزني ولایت د رشیدانو ولسوالۍ د حسین خیلو په عالي لیسه کې ترسره کړې دي، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې د وردګو ولایت جغتو ولسوالۍ د غا زي محمد جان خان په عالې لیسه کې پای ته رسولې دي، په ۱۳۹۳ ه ش کې یې د خوست شیخ زاید پوهنتون د کرنې پوهنځي اګرانومي دیپارټمنت څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ او په ۱۳۹۸ه ل کال کې یې له کابل پوهنتون څخه د ماسترۍ سند ترلاسه کړی. د ۱۳۹۶ ه ل څخه تر اوسه د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځی د اګرانومي دیپارټمنت د کادري غړی په توګه او هم د ۱۴۰۱هـ.ش کال څخه را په دیخوا د وردګ پوهنتون د استادانو د تقرر او علمي ترفېعاتو د آمر په توګه دنده تر سره کوي.

## د هارتیکلچر دیپارتمنت کریکولم

| کریډیټ شمیر | د مضمون نوعیت | کوډ نمبر | مضمون نوم | شمیره |
|---|---|---|---|---|
| **لومړي ټولګی – لومړي سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت** | | | | |
| 2 | پوهنتون شمول | SL. IC0171 | د اسلام اعتقادي نظام | 1 |
| 1 | پوهنتون شمول | SL. IC0171 | تجوید | 2 |
| 2 | پوهنتون شمول | | انګلیسي (1) | 3 |
| 1 | پوهنتون شمول | | معاصر تاریخ | 4 |
| 3 | اساسي | | عمومي کیمیا | 5 |
| 3 | اساسي | Ag-Agron 111 | عمومي نباتات | 6 |
| 3 | اساسي | Ag-AnSc 112 | عمومي زولوژي | 7 |
| 2 | اساسي | | عمومي ریاضي | 8 |
| 2 | پوهنتون شمول | | کمپیوتر (1) | 9 |
| 19 | د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | |
| **لومړي ټولګی – دوهم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت** | | | | |
| **کریډیټ شمیر** | **د مضمون نوعیت** | **کوډ نمبر** | **مضمون نوم** | **شمیره** |
| 2 | پوهنتون شمول | | د اسلام اعتقادي نظام | 1 |
| 2 | پوهنتون شمول | | سیرت | 2 |
| 2 | پوهنتون شمول | | انګلیسي (2) | 3 |
| 2 | پوهنتون شمول | | فزیک | 4 |
| 3 | اساسي | | عضوي کیمیا | 5 |
| 3 | اساسي | Ag-FNR 0213 | نباتي سیستماتیک | 6 |
| 1 | پوهنتون شمول | Ag -FNR 0214 | محیط زیست | 7 |
| 2 | پوهنتون شمول | | کمپیوتر (2) | 8 |
| 2 | پوهنتون شمول | Ag-FT 0215 | غذايي مصونیت | 9 |
| 3 | اساسي | Ag-EcEx 0216 | کرنیز ترویج اساسات | 10 |
| 2 | اختیاري | Ag-AnSc 0217 | د مالداري د فارم مدیریت | 11 |
| 24 | د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | |

# د هارتیکلچر دیپارتمنت کریکولم

| دوهم ټولګی – دریم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | د اسلام اخلاقي نظام | SL. IC0175 | پوهنتون شمول | 2 |
| | د اسلام ټولنیز نظام | SL. IC0176 | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | انګلیسی | | پوهنتون شمول | 2 |
| 3 | خاوري پوهنې اساسات | Ag-SS0318 | اساسی | 3 |
| 4 | د کرنیزو ماشین الاتو اساسات | Ag-Agron0319 | اساسی | 3 |
| 5 | مایکروبیالوژي | Ag-AnSC0320 | اساسی | 3 |
| 6 | د مالداری اساسات | Ag-AnSc0321 | اساسی | 3 |
| 7 | حیاتی کیمیا | Ag-AnSc0322 | اساسی | 3 |
| 8 | کرنیز تجارت | Ag- BM513 | اختیاري | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 24 |

| دوهم ټولګی – څلورم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | فکري پوهنه | SL. IC0177 | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | ادیان او مذاهب | SL. IC0178 | پوهنتون شمول | 2 |
| 3 | انګلیسی | | پوهنتون شمول | 2 |
| 4 | حشره پوهنې اساسات | Ag-PP0425 | اساسی | 3 |
| 5 | د کرنیزو نباتاتو اساسات | Ag-Agron0426 | اساسی | 3 |
| 6 | باغداری اساسات | Ag-Hort0427 | اساسی | 3 |
| 7 | کرنیز اقتصاد اساسات | Ag-EcEx0418 | اساسی | 3 |
| 8 | د ځنګلپوهنې اساسات | Ag-FNR0429 | اساسی | 3 |
| 9 | د نباتي ناروغیو اساسات | Ag-PP0430 | اساسی | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 24 |

## د هارتیکلچر دیپارتمنت کریکولم

| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
|---|---|---|---|---|
| **دریم ټولګی – پنځم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت** | | | | |
| 1 | د اسلام اداری نظام | | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د ایکولوژي اساسات | Ag.FNR.534 | اساسي | 2 |
| 3 | د وچو ساحو هارتیکلچر | Ag.Hort.531 | تخصصي | 2 |
| 4 | د هرزه بوټو کنټرول اساسات | Ag.Agron.532 | اساسی | 3 |
| 5 | د سبو تولید اساسات | Ag.Hort.532 | تخصصي | 2 |
| 6 | د احصائیی مبادي | Ag.EcEx.0534 | اساسي | 3 |
| 7 | د میوه جاتو تولید اساسات | Ag.Hort.533 | تخصصي | 2 |
| 8 | د هارتیکلچري نباتاتو تکثیر او قوریه داری | Ag.Hort.534 | تخصصي | 3 |
| د مجموعي کریډیتونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 20 |
| **دریم ټولګی – شپږم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت** | | | | |
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | د اسلام اقتصادی نظام | SL.IC.0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د کرنیز محصولاتو بازارموندنه | Ag.EcEx.624 | اساسي | 2 |
| 3 | د ګلانو روزنه | Ag.Hort.635 | تخصصي | 3 |
| 4 | علمي طرح او تجربي | Ag.Agron.0638 | اساسی | 3 |
| 5 | د وراثت پوهې مبادي | Ag.BT.632 | تخصصي | 3 |
| 6 | نباتي فزیولوژي | Ag.Agron.641 | اساسي | 3 |
| 7 | د سبو ناروغی | Ag.PP.643 | تخصصي | 3 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 8 | د هارتیکلچري نباتاتو د تخم تولید تکنالوژي | Ag.Hort.636 | تخصصي | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 23 |

## د هارتیکلچر دیپارتمنت کریکولم

| خلورم ټولګی – اووم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **شمیره** | **مضمون نوم** | **کوډ نمبر** | **د مضمون نوعیت** | **کریډیت شمیر** |
| 1 | قرآن او معاصرعلوم | SL.IC0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د آبیاری مبادي | Ag.SS.624 | اساسي | 3 |
| 3 | مصاله ای او طبي نباتات | Ag.Hort.737 | تخصصي | 2 |
| 4 | په ساتل شوي محیط کې د هارتیکلچري نباتاتو کښت | Ag.Hort.0738 | تخصصي | 3 |
| 5 | زینتي نباتات او د شني فضا دیزاین | Ag.Hort.739 | تخصصي | 2 |
| 6 | د خاوري حاصلخیزي او د نباتاتو تغذیه | Ag.SS.741 | اساسي | 3 |
| 7 | تل شني میوي | Ag.Hort.740 | تخصصي | 3 |
| 8 | د هارتیکلچري نباتاتو د ارزښت ځنځیر لوړول | Ag.Hort.741 | تخصصي | 2 |
| | علمي څیړنیزه پروژه 1 | Ag.Hort.742 | تخصصي | 2 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 23 |
| خلورم ټولګی – اتم سمستر – هارتیکلچر دیپارتمنت | | | | |
| **شمیره** | **مضمون نوم** | **کوډ نمبر** | **د مضمون نوعیت** | **کریډیت شمیر** |
| 1 | اسلامي تمدن | SL. IC0883 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د هارتیکلچري محصولاتو ذخیره او پروسس | Ag.Hort.844 | تخصصي | 3 |
| 3 | د سبو تولید | Ag.Hort.845 | تخصصي | 3 |
| 4 | د پانریژو میوو تولید | Ag.Hort.846 | تخصصي | 3 |
| 5 | د هارتیکلچري نباتاتو نسلګیري | Ag.Hort.847 | تخصصي | 3 |
| 6 | عضوي او دوامداره هارتیکلچر | Ag.Hort.848 | تخصصي | 3 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 7 | تحقیقي پروژه 2 | Ag.Hort.849 | تخصصي | 2 |
| 8 | د ونو ناروغی | Ag.Hort.850 | اختیاري | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 23 |

## د اګرانومي دیپارټمنت کریکولم

| لومړی ټولګی – لومړی سمستر – اګرانومي دیپارټمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیټ شمیر |
| 1 | د اسلام اعتقادي نظام | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | تجوید | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 1 |
| 3 | انګلیسي (1) | | پوهنتون شمول | 2 |
| 4 | معاصر تاریخ | | پوهنتون شمول | 1 |
| 5 | عمومي کیمیا | | اساسي | 3 |
| 6 | عمومي نباتات | Ag-Agron 111 | اساسي | 3 |
| 7 | عمومي زولوژي | Ag-AnSc 112 | اساسي | 3 |
| 8 | عمومي ریاضي | | اساسي | 2 |
| 9 | کمپیوټر (1) | | پوهنتون شمول | 2 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 19 |
| **لومړي ټولګی – دوهم سمستر – اګرانومي دیپارټمنت** | | | | |
| **شمیره** | **مضمون نوم** | **کوډ نمبر** | **د مضمون نوعیت** | **کریډیټ شمیر** |
| 1 | د اسلام اعتقادي نظام | | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | سیرت | | پوهنتون شمول | 2 |
| 3 | انګلیسي (2) | | پوهنتون شمول | 2 |
| 4 | فزیک | | پوهنتون شمول | 2 |
| 5 | عضوي کیمیا | | اساسي | 3 |
| 6 | نباتي سیستماتیک | Ag-FNR 0213 | اساسي | 3 |
| 7 | چاپیریال ساتنه | Ag -FNR 0214 | پوهنتون شمول | 1 |
| 8 | کمپیوټر (2) | | پوهنتون شمول | 2 |
| 9 | غذایي مصونیت | Ag-FT 0215 | پوهنتون شمول | 2 |
| 10 | کرنیز ترویج اساسات | Ag-EcEx 0216 | اساسي | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 24 |

## د اګرانومي ډيپارټمنټ کريکولم

| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|
| دوهم ټولګی – دریم سمستر – اګرانومي ډیپارټمنټ | | | | |
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیټ شمیر |
| 1 | د اسلام اخلاقي نظام | SL. IC0175 | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | د اسلام ټولنیز نظام | SL. IC0176 | پوهنتون شمول | 2 |
| 3 | انګلیسي | | ټول شمول | 2 |
| 4 | د خاورې پېژندنې اساسات | Ag.SS 0318 | اساسي | 3 |
| 5 | د کرنیزو نباتاتو اساسات | Ag.Agron0319 | اساسي | 3 |
| 6 | د مایکرو بیولوژۍ اساسات | Ag.AnSc 0320 | اساسي | 3 |
| 7 | د نباتي ناروغیو اساسات | Ag.Pp 0321 | اساسي | 3 |
| 8 | د بایو ټکنالوژۍ اساسات | Ag.BT 0323 | اختیاري / اساسي | 3 |
| 9 | د غذايي موادو د ټکنالوژۍ اساسات | Ag.FT 323 | اختیاري | 2 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 24 |
| دوهم ټولګی – څلورم سمستر –اګرانومي ډیپارټمنټ | | | | |
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیټ شمیر |
| 1 | فکري پوهنه | SL. IC0177 | پوهنتون شمول | 2 |
| | ادیان او مذاهب | SL. IC0178 | پوهنتون شمول | 2 |
| 2 | انګلیسي | | ټول شمول | 2 |
| 3 | د حشره پوهنې اساسات | AgPP 0425 | اساسي | 3 |
| 4 | د کرنیزو ماشین آلاتو اساسات | AgAgron 0425 | اساسي | 3 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 5 | د بڼوالی اساسات | AgHort 0426 | اساسي | 3 |
| 6 | د کرنیز اقتصاد اساسات | AgEcEx0418 | اساسي | 3 |
| 7 | د ځنګل پوهنې اساسات | AgFNR 0429 | اساسي | 3 |
| 8 | د مالداری اساسات | AgAnSc 0430 | اساسي | 3 |
| د مجموعي کریډیتونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 24 |

## د اګرانومي دیپارتمنت کریکولم

| دریم ټولګی – پنځم سمستر – اګرانومي دیپارتمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | د اسلام اداری نظام | | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د ایکولوژی اساسات | AgFNR 0532 | اساسی | 2 |
| 3 | د وچو سیمو کرنه | AgAgron 0531 | اساسی | 2 |
| 4 | د هرزه بوټو کنترول اساسات | AgAgron 0532 | اساسی | 3 |
| 5 | علوفه جات | AgAgron 0533 | اساسی | 2 |
| 6 | د کرنیزو احصائیه مبادی | AgEcEx 0521 | اساسی | 3 |
| 7 | ارګانیک فارمینګ (کرنه زراعت) | AgAgron 0535 | اساسی | 2 |
| 8 | تل پاتې کرنه | AgAgron 0536 | اساسی | 2 |
| 9 | د کرنیزو ماشین آلات تکنالوژی | AgAgron 0537 | اساسی/اختیاری | 3 |
| د مجموعي کریډیتونو شمیر په دې سمستر کې | | | | 22 |
| دریم ټولګی – شپږم سمستر – اګرانومي دیپارتمنت | | | | |
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | د اسلام اقتصادی نظام | SL.IC.0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | د کرنیزو محصولاتو بازارموندنه | AgEcEx 0624 | اساسی | 2 |
| 3 | د علمی طرح و تحلیل و تجاربی | AgAgron 0638 | اساسی | 3 |
| 4 | حبوبات | AgAgron 0640 | اساسی | 3 |
| 5 | د وراثت پوهی مبادی | AgBT 0632 | اساسی | 3 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 6 | نباتی فزیولوژی | AgAgron 0641 | اساسی | 3 |
| 7 | د کرنیزو نباتاتو مضره حشری او کنی | AgPP 0642 | اساسی | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دي سمستر کې | | | | 20 |

## د اګرانومي ډیپارټمنت کریکولم

| خلورم ټولګی – اووم سمستر – اګرانومي ډیپارټمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | قرآن او معاصرعلوم | SL.IC0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | دآبیاری آساسات | AgSS0740 | تخصصي | 3 |
| 3 | غله جات | AgAgron0743 | تخصصي | 3 |
| 4 | نباتي نسلګیري | AgBT0736 | تخصصي | 3 |
| 5 | د خاورې حاصلخیزي او نباتي تغذیه | AgSS0741 | تخصصي | 3 |
| 6 | تحقیقي پروژه | AgAgron0746 | تخصصي | 2 |
| 7 | د کرنیزو نباتاتو دمحصولاتو ذخیره او پروسس | AgBT0737 | تخصصي | 3 |
| د مجموعي کریډیټونو شمیر په دي سمستر کې | | | | 20 |

| خلورم ټولګی – اتم سمستر – اګرانومي ډیپارټمنت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
| 1 | اسلامي تمدن | SL. IC0883 | پوهنتون شمول | 3 |
| 2 | دکرنیزو نباتاتو امراض | AgPP0851 | تخصصي | 3 |
| 3 | صنعتي نباتات | AgAgron0848 | تخصصي | 3 |
| 4 | دکرنیزو تخمونو دعلم او ټکنالوژی آساسات | AgBt0841 | تخصصي | 3 |
| 5 | د خاورو او اوبو ساتنه | AgSS0847 | تخصصي | 3 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 3 | تخصصي | AgAgron0849 | تيلي نباتان | 6 |
| 2 | تخصصي | AgFNR0860 | طبي نباتات | 7 |
| 2 | تخصصي | AgAgron0850 | تحقيقي پروژه | 8 |
| 22 | د مجموعي کريډيټونو شمير په دي سمستر کې | | | |

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Wardak university**

**Faculty of Agriculture**

# AGRICULTURE FACULTY CATALOG